ابراهیم نعیمي

٦ مارچ ٢٠١٤

ښځه په پرمختللو ټولنوکې هم ترنارینه ډیرکارکوي

کله چې په بشري ټولنو کې پلارواکي واکمنه شوی ده د ښځو او نارینوو د چارو ویش د ټولنو د ژوند په مختلفو پړاونوکې په یو یا بل ډول د تودو بحثونو موضوع ګرځیدلي ده.
په لیکلي ډول مالومه نه ده چې څه وخت او کومه تاریخي دوره کې مور او ښځه په بشپړ ډول واکمنه وه. که انسان په ژوره توګه ځیرشي، د ښځې موجودیت د مور او میرمنې په رول کې ډیر اربښتناکه دي. مور د انساني ژوند د پایښت په پروسه کې ډیر اساسي رول لوبوي. دا څرګنده ده چې بیله نارینه څخه د ژوند دوام ممکن نه دي. خو د ښځې رول ځکه اساسي ګڼل کیږي چې انسان د نطفې له وخت څخه د مور په خیټه کې پرورش کوي. مور په خپله خیټه کې د اولاد سره مینه پیدا کوي. دا مینه په دومره لوړه کچه ده چې د بارداري په ټوله دوره کې ټول زحمتونه داسې تیروي چې نه یوازې شکایت نه کوي بلکې د هر درد سره چې ماشوم ته ضرر ونه لري، ځانګړې خوښي کوي. د ښځو په قول تر ټولو شدید درد د زیږیدنې په وخت کې دي او تر ټولو لویه د خوښۍ شیبه هم دغه ده. ددې خبرې مانا داده چې د مور مینه اوعاطفه دومره ډیره ده چې د اولاد د مینې په خاطر درد ورته په زړه پورې وي. د مور د عاطفې په اړوند د یو نارینه لپاره محاله ده چې واقعي بڼه یې انځور او یا احساس کړي. سره ددې چې هر نورمال نارینه د ژوند په بهیرکې د دغه مینې او عاطفې خوند څکلي دي ولې بیاهم نارینه دي چې د ښځې د درناوي دغه لوړمقام ته سرنه ټیټوي. داسې ډیر حالات لیدل شوی چې حتي د مور قدرهیرکړي.
د نارینه اود ښځو د کارونو ارزښت
ا ـ په افغانستان کې : زموږ په هیواد او نورو ورته هیوادونو کې د ښځې دنده دومره بې ارزښته حسابیږي چې ګواکې ښځه هیڅ نه کوي. علت یې دادی چې د کور ښځې په نیغه په تولید کې برخه نه لري په دی مانا چې سمدستي نغده پیسه کورته نه راوړي. یوه بیلګه وړاندې کوم :
ډیر کلونه مخکې د ځواني په کلونوکې می ماشوم ناروغه شو. دوی شپې پرله پسې زما میرمنې تر سهاره په غیږ کې وګرځاوه، البته دوځله مو ډاکټر ته وروست. دریمه شپه مې ولیدل چې د میرمنې سترګې مې د بیخوبي څخه پرسیدلي دي. نومې وړاندیز وکړ چې نن شپه به زه ورته کښینم، ته لږ خوب وکړه .ماشوم می په غیږ کې واخیست او په کوټه کې مې ګرځاوه. تر یو ساعت لږ وخت تیر شو چې بې حوصلې شوم، ماشوم ته مې وویله که د پاچا زوی هم وای دومره تداوی دی نه کیده. زه څه وکړم چې ته روغ او ارام شی ؟
میرمن مې ددغه ږغ سره اوچته راپورته شوه په ډیره مهربانی یې ماشوم واخیست او بیایې په پوره حوصله د مینې په خبرونازورکاوه .
که لږ ځیر شو، د دغه د روشپولپاره که چا ته پیسې ورکړې چې زما ناروغ ماشوم راته وساته، بیله دې چې باوری اوسې چې دومره ښه په مینه به یې وساتي، باید زیاتې پیسې اجوره ورکړې چې ماشوم درته وساتي. دغه حساب هیڅ نارینه نه کوي نوځکه د مور کار په هیڅ کې حسابیږي.
د کورنۍ چارې چې موږ ورته عادي چارې وایو په ځانګړې ډول د افغانستان په کلیوالي سیمو کې د وچې ډوډۍ پخول، د کتغ جوړول د بللو او نابللو میلمنو عزت او درناوي، د څارویولوشل، د وښو او اوبو ورکول، د ماشوم ناروغ سره د شپو ړونول، د لوښو او کالیو پریمینځل او نور په سلګنو دندې.
که څه هم ښارې ښځې د ژوندیو څه اسانتیاوې لري ولې بیاهم د کورنۍ ډیرې چارې د بهرڅخه د موادو د رانیولو په ګډون ترسره کوي. هغه ښځې چې د کور نه بهردنده ترسره کوي، کیدای شي مهربانه نارینه د کور په چاروکې مرسته وکړی ولې دا مرسته په دومره کچه نه ده چې په حساب کې راشي نو دا په دې مانا ده چې دا ښځې دوه برابره کارکوي. لویه ستونزه داده چې دغه بیان هر نارینه هر ګړي مشاهده کوي ولې بیاهم د ښځې کار ته په ځانګړې ارزښت نه قایلیږي. علت بیاهم دا دي چې کار په نیغه عواید نه لري او بل به هم د پلار واکۍ غیري عادلانه واکمن دودوي.
په اروپایي هیوادونو کې : په دې هیوادونو له یوې خوا د ژوند سطحه ډیره لوړه ده او د بلې خوا د ژوند ډیرې چارې د

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ماشینونو په واسطه ترسره کیږي ولې زما د ژوند (۲۲) کلنه تجربه ښیي چې بیاهم ښځې تر نارینه زیات کار کوي.
غواړم پدې اړوند Information d.۳.۱۰.۲۰۱۱ د ډنمارکې ورځپاڼې د اړوند مضمون ځینې برخې وژباړم :
دیو ۳۹ کلنې مور کیسه ده چې په پیل کې د کور نه بهر ډیرکارنه کاوه ولې اوس د کور نه بهر د خپل میړه سره برابر ساعتونه کارکوي.
«کله چې ما د کور نه بهر لږ کار کاوه، عاید مې لږ وه نو لازمه مې ګڼله چې د کور په کارونو کې ډیره ونډه واخلم . باید ووایم چې زما میړه په دې اړوند کومه ځانګړې غوښتنه نه وه کړې ولې ما خپله غوښتله چې د کور او بهر کار تر منځ دغه تعادل وساتم. اوس ترخپل میړه ډیرې پیسې ګټم ولې د کور د کار په اړوند مې بدلون نه دی راوستی. په ډنمارک کې احصایه ښیی چې په ډنمارک کې ښځې په لویه کچه ترمیړه ډیرعاید لري ولې بیاهم د کور چارې تر نارینه په لوړه پیمانه تر سره کوي. د سایکلوژیستانو په اند دغه ډول زیات کار د میرمنو د روحي تشنج غټ عامل ګڼل کیدای شي.
د ۴۰۰۰ ډنمارکې کورنیو څخه د څیړنې په خاطر پوښتنې او ګرویږنې شوی دي چې پایله په لنډ ډول داده :
هغه ښځې چې لږعاید ولري په لویه پیمانه د کور د چارو لویه برخه سرته رسوي ولې هغه نارینه چې عاید یې تر ښځې لږ وي، د کور په چارو کې د ښځو په پرتله ونډه نه اخلي. د کار دومره لوړ بوج چې ښځې پورته کوي نو په لوړه کچه د روحي ناروغیو په وجه په لویه شمیره سایکلوژیستانو ته د مرستې لپاره مراجعه کوي.»
پورته بیلګه مې په دی خاطر وړاندې نه کړل چې زه د افغاني جګړه ځپلو ښځو ژوند د اروپایي هیوادونو د ښځو د ژوند سره پرتله کړم. ما غوښتل چې څوټکې روښانه کړم :
ـ ښځې او نارینه په اروپایي ټولنو کې هغه مرحلې ته رسیدلې دي چې د کار حجم سره پر تله کولای شي.
ـ سره د دغومره ازادي بیاهم ښځه تر نارینه د کور په چارو کې زیاته ونډه اخلي سره د دی چې د کور نه بهر تر میړه زیات کارکوي.
ـ د ښځو لپاره د زیات کارکول دومره ستونزمن دي چې روحي تشنجات پیدا کوي ځکه د ښځو طبعي کار لکه د اولادونو زیږول او تربیه کول هم ددوي په غاړه دي.
ـ د اروپا ښځې د افغانو میرمنو سره په دې اړوند دوي مشترکې وجې لري.
الف : داچې ښځه ده د کور په کار کې بیاهم ډیره ونډه اخلي سره د دي چې د دغه کارونو په نتیجه کې ناروغه کیږي.
ب : د اولاد زیږول او په زیاته کچه د اولادونو ساتل او تربیه د میندو پراوږووي.
غواړم د ډنمارکې Politiken Lørdag d.۱،۱۰،۲۰۱۱ ورځپاڼې یومضمون دکینیا Kenya هیواد د ښځو د ژوند یو بیلګه وړاندې کړم باید ووایم چې کینیا Kenya اسلامي هیواد دي. دا هیواد اوس ۴۱ میلیونه وګړي لري لید لوري ښیي چې په ۲۰۵۰ ز کال به یې د وګړو شمیر ۸۵ میلیونو ته جګ شي.
«علي بابا څلور میرمني او ۲۸ ماشومان لري نوموړي ۴۶ کلن دي او نور اولادونه هم غواړي. دده په اند لومړۍ میرمن زړه ده غواړي هغه طلاقه کړي ځکه په اسلام کې ترڅلور زیاتې ماینې اجازه نه شته. علي بابا غواړي د بلې ښځې لپاره ځای خالي کړي.»
دا بیلګه زموږ د هیواد د ښځو ژوند ته څه ناڅه ورته والی لري، سره د دي چې په افغانستان کې طلاق ښه عمل نه ګڼل کیږي.
د علي بابا کړنه د څو لورو څخه ناوړه کړنه ګڼل کیږي :
ـ په ټولیز ډول د اسلام مقدس دین په نړۍ کې د خلکو په ذهنونو کې زیانمن کوي. ځکه تر یوې زیاتې نکاح په اسلام کې ځانګړې قوانین لري ولې علي بابا غواړي تر څلور زیاتې ښځې ولري.
ـ د کینیا Kenya هیواد همدا اوس نه شي کولای د ۴۱ میلیونو خلکو لپاره د ژوند نورمال شرایط برابر کړي ولې که نفوس دوه برابره شي په باور سره تردي نورهم ولسونه د فقر په ستونزه اخته شي.
ـ د ښځې څخه یوازې د تولید د وسیلې کار اخیستل او ټول بشري قوانین د پامه غورځول بله اساسي ستونزه ده.
که بیرته خپل د جګړه ځپلې هیواد د ښځو ژوند ته راوګرځوو، د جګړې د ستونزو نه علاوه زموږ میندې اوخویندې ډیرې کړول کیږي. تر یوې ښځې د زیاتو ښځو نکاح کول هم ډیر رواج موندلی دي، د اولادو شمیره د پخوا په شانې د زیاتیدو په حال کې ده. د نارینوو لخوا تاوتریخوالی په لوړه کچه جریان لري. دا چې روحي ناروغه کیږي، دی ته خوځوک پام نه کوي بلکې د فزیکي ناروغیوغم یې هم د چا سره نه شته. د زیږیدون پروخت د میندو مړینه د نورې نړۍ په پرتله ډیره جګه ده او په زرګونو نورې ستونزې.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

زموږ د هیواد هر وګړی پوهیږي چې د ښځو ژوند یې څومره د کړاونو ډک دي ولې په لویه کچه د ښځو په مقابل کې د تاوتریخوالي، وهلو او ناورو ناوړه کړونو څخه کار اخلي. په دې هیله چې زموږ خلک ویل اوعمل سره یو کړي مانا داچې دغومره چې د میندو درناوی یادوی او د ښځې ساتنه د ناموس په توګه د ځان دنده وبولي په همدغه ډول د ښځو په مقابل کې لوړ انساني چلندو کړي او د باوقاره بشپړ انسان په سترګه ورته وګوري او د ټولو انساني حقوقو په ورکولو ورته قایل شي. ۲۰۱۱/۱۰/۱۱

پای

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ